**د سوريې پر انقلاب د سعودي د اوقافو وزير نيوکه**




د سعودي عربستان د اسلامي چارو وزير عبدالطيف بن عبدالعزيز د عربي پسرلي په انقلابونو نيوکه وکړه. ده د خپل کار دليل د سوريې ويجاړي او د خلکو اواره‌گي وښوده. د سعودي دغه وزير د سعودي په پلازمېنه رياض کې د رسمي علماوو په غونډه کې د عربي پسرلي انقلابونه د عربو مسلمانانو لپاره وژونکي وګڼل، داسې انقلابونه چې هېوادونو او ملتونو ته يې ورانی رامنځته کړی او وچ او لامده سوځي. هغه ټينګار وکړ چې دا ټول حالات د فتنې د دعوتګرو او هغو کسانو لخوا رامنځته شوي، چې دين يې د دنيا د لاسته راوړلو او ځواک ته د رسېدو وسيله ګرځولی.

بن عبدالعزيز اضافه کړه: «د فتنې او شر دعوتګرانو او هغو کسانو ته چې د خلکو له احساساتو سره لوبې کوي، اجازه ورکول د ملتونو د خرابۍ او ورانۍ عامل ګرځي، بې له دې چې خلکو او ملتونو دين او دنيا ته کومه ګټه ورسوي.» هغه د انقلاب په هکله په خپلو خبرو کې د سوريې بحران او هغه څه چې د سوريې خلکو ته د فقر او بدبختۍ په څېر رسيدلي، اشاره وکړه او هغه کسان يې د فتنې دعوتګران وبلل چې خلکو ته يې اجازه ورکړه چې سرکونو ته راووځي او په پايله کې سوريه دغه حالت ته ورسېده.

**نو تاسو اې د اسلام علماوو!** امت نن ستاسو ليدلوري ته اړتيا لري، هغه ليدلوری چې د اسلام د لومړنيو علماوو له ليدلوري سره ورته وي، څرنګه چې هغوی له باطل سره مبارزه وکړه او ماتې يې ورکړه، دا چې د هغو ظالمانو په وړاندې چې پای يې نږدې دی د امت له خوځښت څخه ځان ته برائت ورکړئ، ووېرېږئ او د امت له قهر څخه چې خوځښت او بيداري ورسره ده ووېرېږئ، او د دې بيدارۍ په لومړيو کسانو کې اوسېږئ، نه په وروستيو کې. بېشکه د ظالم پاچاه پر وړاندې د حق خبره د هغه چا شعار دی چې د الله سبحانه و تعالی کتاب ساتي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت راټولوي او پر يې شريعت عالم وي. د اسلام په تاريخ کې د هغو دعوتګرانو داستانونه ډېر زيات دي، چې له حاکم سره په شخړه کې يې استقامت ښودلی او د تاريخ په پاڼو کې د داسې نارينه او ښځو عالمانو او عابدانو نوم ليکل شوی چې د ظالمو حاکمانو پر وړاندې درېدلي، له هغوی سره يې استدلال کړی او هغوی ته يې نصيحت کړی او خپل مسووليت يې ادا کړی. د امت شکايت يې ورته رسولی او په پايله کې يې د امت حالت د لاسه وتلو حقونو په بيا لاسته راوړو سره اصلاح کړی.

**ذبيح الله رضوان**